**د آهو او اتل کیسه**

په یوه شنه دښته کې یوه ښکلې آهو اوسېده. د هغې سترګې د شپې د ستورو په څېر ځلېدې او ګامونه یې د باد په څېر سپک وو. هر څوک چې به یې لیدل، د ښکلا سندرې به یې ویل.

یو ورځ یو زړور اتل د ښکار لپاره راغی. د ده د کمان غشي د غرونو لکه درووند وو، خو زړه یې د ماشوم په څېر پاک و. کله چې یې د آهو سترګې ولیدې، د زړه له تل نه یې د شفقت څپه پورته شوه. د غشي پر ځای یې موسکا ورکړه.

له هماغې ورځې آهو د اتل سیوری شوه. کله به چې اتل د جګړې میدان ته روان شو، آهو به د غرونو له څوکو ورته کتل. کله چې به اتل ستړی ستړی ستنېده، د آهو د سترګو سکون به د ده ټول دردونه ورله هېر کړل.

خو د ژوند لاره تل خوږه نه وي. د یوې خونړۍ جګړې په ماښام اتل داسې ټپي شو چې نور یې د تلو توان نه درلود. هغه پر ځمکه پرېوت، او وروستی ځل یې د آهو غږ واورېد. آهو تر اتل پورې راغله، د سترګو له لارې یې د وېرې او غم خبرې کولې.

اتل ورو وویل:
«ما ستا د سترګو په ښکلا کې تلپاتې ژوند پیدا کړ، که څه هم زما بدن له خاورو سره یو کېږي.»

خو هغه شپه د صحرا پر زړه د آهو اوښکې د باران څاڅکي شوې. آهو نور هېڅکله ونه خندل، ځکه د هغې د ژوند آتل د خاورو لاندې ویده پاتې شو.

**پایلیک:**

**»ځینې مینې د ژوند د سفر پای ته نه رسېږي، خو د زړه په تل کې تلپاتې پاتې کېږي«.**

Ketabton.com

*لیکوال : شعیب* الکوزی

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*